محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۱۸

# د عبدالرحیم هاتف لیکونه

دا ( ۲۱۸) مخه کتاب دی، چي په دې وروستيو کي په کندهارکي د علامه رشاد خپرندويه ټولني لخوا د ( ۱۰۰۰) ټوکو په تيراژ د حاجي ظاهرجان څرک په مالي لګښت خپور سوی دی.

په دې کتاب کي د عبدالرحيم هاتف ( ۲۰) هغه ليکونه، چي حاجي ظاهرجان څرک ته يي له ( ۱۹۹۷ –۲۰۰۲ ) له هندوستانه راليږلي چاپ سوي دي.

پرياد کتاب له ښاغلي څرک ترڅنګ پيژندل سوی شاعر عبدالباري جهاني، محتاط څېړونکي معصوم هوتک او تکړه ليکوال واحد فقيري ليکنی کړي دي.

دوی هريوه د کتاب ډېره ستاينه کړې او ددغسي مهمو علمي، سياسي او ادبي شخصيتونو د ليکنو چاپول يي غوره کار ياد کړی دی.

ليکوال او شاعر عبدالباري جهاني ددغه ډول ليکونو چاپي ټولګي ارزښت ډېرمهم ګڼي او وايي « کله چي سړی داکتاب لولي، نو کټ مټ هغه ليکونه ور په زړه کيږي، چي د هند لومړني صدراعظم او رهبرجواهر لعل نهرو له بنديخاني څخه خپلې لور ايندراګاندهي ته ليکلي دي. »

استاد معصوم هوتک بيا د عبدالرحيم هاتف د ليکني پر سبک ليکنه کړې او هغه يي ديو ځانګړي سبک، ښې مطالعې او پياوړي استدلال خاوند ياد کړی دی.

« هاتف مرحوم د ليکني خاص سبک درلود اود استدلال پياوړې قوه يي هم ورسره مله وه.

علمي تبحراو پراخه مطالعه يي هرهغه چاته ښه معلومه وه، چي دده له مجلس او دغه ډول ليکونو سره بلد وي. »

ددغو ليکنو راټوولونکی ظاهرجان څرک وايي، د کتاب له چاپ څخه يي موخه داده، چي په راليږل سويو ليکنو کي لوستونکي له بيلا بيلو موضوعګانو څخه خبر سي.

دده په قول ، دهيواد په کچه دغه علمي څېره ددوی د پلار د مجلسونو ملګری او بيايي له دوی سره هغه دوستي پالل او کله چي په کابل کي د مجاهدينو حکومت راغلی، نو هاتف مرحوم هندوستان ته مهاجر او له هغه ځايه يي ښاغلي څرک سره د ليک له لاري د ځينو تاريخي، جغرافيوي، سياسي، ادبي، کلتوري او شخصي پوښتنو ځوابونه د ليکونو په واسطه راليږل .

ښاغلی څرک زياتوي، داچي په هغه وخت کي دلته جنګونه وو، نو ليک به يي د پاکستان لخوا ليږي او تر ۲ مياشتي انتظار وروسته به يي د ليک ځواب ترلاسه کوی.

« مرحوم عبدالرحيم هاتف صاحب زما د پلار د مجلسونو ملګری وو، دوی به هره جمعي ورځ مېلې ته تلل او موږ به يي هم ورسره بيولو.

هغه زموږ لکه اکا داسي ؤ او ده هم موږ ته د وراره ګانو مينه راکوله .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کله چي هندوستان ته ولاړی نو بیابه ما ځیني پوښتني په لیکونو کي ورته کښلي او دوی به یي ځوابونه رالیږل.

ما دا لیکونه ساتله او دادی اوس یو بشپړ کتاب ځینی جوړ سو.»

د کندهار د اطلاعات اوفرهنګ رییس فضلباری بریالی دغه ډول د لیکونو چاپ ځکه اړین ګڼي، چي د فرهنګي او علمي کسانو ترمنځ د لیکونو تبادله خورا نوي مطالب خپلو لوستونکو ته وړاندي کوي.

دده په قول نورفرهنګیان هم که دغه ډول د پوهانو لیکونه ولري ورته ښایي، چي د چاپ په ګڼه یي وپسولي.

« د فرهنګي اشخاصو ترمنځ د لیکونو تبادله، ساتل اوبیا په کتابي بڼه خپرول ځکه مهم دي، چي په داسی لیکونو کي ډېرمهم موضوعات مطرح کیږي.

داکتاب ځکه یو غنیمت دی، چي دیوسیاسي، ادبي او ټولنیز شخصیت لخوا یو فرهنګي شخص ته پر بیلا بیلو موضوعګانو لیکونه لیږل سوي دي او هرلیک لوستونکي ته یوه نوې موضوع وړاندي کوي.»

د کندهار مجلي مسؤل مدیرمحمد نبي سلطاني وایي، دا ټول لیکونه یي تر کتابي چاپ له مخه ځکه ټ لوستي دي، چي دا هر لیک اول وار په کندهار مجله کي چاپ سوی او وروسته بیا په کتابي بڼه ادبي او علمي کهول ته وړاندي سوي دي.

سلطاني وایي، د لیکونو د لوستلو پرمهال لوستونکي له خورا نوي موضوعګانو سره مخامخ کیږي، چي په څو واري لوستلو ارزي.

« داد مرحوم عبدالرحیم هاتف لیکونه دي، چي په بیلا بیلو وختونو کي یي حاجي ظاهرجان څرک ته رالیږلي دي.

په دې لیکونو کي یې نه یوازي ددوی د حال اواحوال پوښتنه کړې ده، بلکي پر خورا ښو موضوعګانو معلومات وړاندي سوي دي.

زه خووایم نور لیکوالان هم که دغه ډول لیکونه ولري، نو چاپ او خپاره دي یې کړي.»

عبدالرحیم هاتف په ( ۱۹۲۶) عیسوي کال په کندهارکی زیږیدلی د کابل حبیبه لیسه ترفراغت وروسته دکابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو پوهنځي له لومړیو فارغانو څخه ؤ.

نوموړی په ولسي جرګه کي یوه دوره د کندهار دخلکو وکیل هم پاته سوی دی.

ښاغلی هاتف په شپږو ژبو( پښتو، پارسي، عربي، انګلیسي، اردو او هالنډي ) خبري او لیکل کولای سوای.

د کندهار اوکابل په علمي مجالسو کي یې ښه نوم درلود، یوشمیر ترجمي هم لري، چی له انګریزي او عربی ژبو یې ترجمه کړي دي.

دغه علمي څېره په ( ۲۰۱۳ ) کال په هالنډ کي وفات او هلته خاورو ته وسپارل سو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ